تاله په پلو کې یې د ښه تول او ادبي ارزښت لرونکي وشمېرو. د خوشحال خان خټک په ضخیم کلیات کې ډېر داسې اشعار سته، چې شاعر د خپل زړه پټې ګوښې پکښې څېړلي او د اروا تجلیات یې پکښې څلولي دي.

مګر د خوشحال خان د ژوندانه مهم اړخ او د ده د سیرت او کرکټر بنیاد خو د خانی لیدرشپ، او توریالیتوب پر ستو ولاړ ؤ، او په رډه یې خپل کرکټر داسي ښود :

و اغیار ته لکه کاني ، موم و یار ته
په سختۍ او په نرمۍ کې هغه زه یم
لکه بوټي د کیمیا په مرغزار کې
چې په حال مې خبردار سي د هغه یم
تندر هم زما له ذاته نه پیدا دئ
په سپین زړه کې د باران سپیني اوبه یم

د خوشحال خان د سیرت دغه کلک اړخ د ده په عاشقانه اشعارو کې هم ښکاري په مینه کې د عاشق غرور او خان خاني نه ځایېږي او د مین نیاز او عاجزي تل د دلربا د جلال محضر ته تحفه وي، خوشحال هم خپل نیاز وړاندي کوي او وایي :

پې نیاز څه خبر له نازه چې ناز څه دئ
ستا د سترګو بلا واخلم ناز په ما کړه
زه دي توان د خرخښو لړلای نه سم
که دي زړه زما په مرګ دي دا اداء کړه

وګورئ تاسي نیازمندۍ او د مین تابه له کمیني سره د دغي غزلي په مقطع کې بیرته دی هغه خان او هغه د پښتنو توره په لاس سپه سالار دئ او خان کمزوری نه بولي، په ډاګه داسي وایي :

زه خوشحال کمزوری نه یم چې به ډار کړم
په ښکاره ناري وهم چې خوله یې راکړه

# د پیرمحمد کاکړ یو ښکلی شعر

بېلتانه په غم شریک کړم د غمجنو
د هر چا په غاړه ژاړم لــــکه نی

ادب او شعر د شاعر او ویونکي د نفسي کیفیاتو هنداره ده. د شاعر روح د ده په وینا کي تجلا کوي، او که موږ په پښتو ادب کي هغه څه سره راټول کړو چې شاعرانو د ځان په خصوص کي ویلي دي نو به دغه ضرور یوه په زړه پوري مجموعه سي، چې په هغي کي به د خپلو شاعرانو، امیال خاطرات، روحي کیفیتونه، د دوی د زړو پټي ارزوګاني په ښکاره ډول لیدلای سوای.

پیرمحمد کاکړ په پښتو شاعرانو کي یو خاص امتیاز لري چې په حقیقي ډول شاعر دئ، یوازي ناظم نه دئ. د ږوب او کاکړو د غرو او رغو دغه خوشنوا بلبل پخپلو خوږو نغمو او ترانو کي د خپل دردمن زړه خواله ښه څرګندولای سي او په روانه او خوږه ژبه هغه څه ویلای سي چې د انسان د اروا په عمیقو ګوټونو کي پټ دي، او د هغو تعبیر یقیناً د یوه خاص فني استعداد او ارټیستیکي نبوغ کار دئ، او هر معمولي شاعر یا ناظم نه سي کولای چې د زړه په هغه اسرار الوده حریم کي داخل سي.

پښتو شاعرانو تر پیرمحمد کاکړ دمخه هم داسي ډېر څه ویلي دي چې موږ یې په ادبي او ناقدانه کتني سره د خاص ارزښت وړ بولو. او کولای سوای چې په غوره آثارو کي یې وګڼو او د کریټیکل

شمس الدين کاکړ د کندهار د خوا يو شاعر دئ، وايي چې کاکړ پر خپل گای ولاړ دي، او پر هوده تينگ وي. دغه گای او هوده د شمس الدين په شعر کي هم ښکاره ده. د معشوق له جوره وطن پرېږدي، او ځي. زړه يې سوځي، او په پرديسي کي ژاړي، مگر په خپله هوده ولاړ دئ، وايي :

دوباره به مخ در کوږ نه کړم له ننگه
همدغه شمس الدين چي ولاړم ولاړم

مگر پيرمحمد د بلي دنيا سړی ؤ، په مينه کي ډېر پوخ سوئ ؤ، بېلتانه او د ميني کړاوونو د عشق د کوڅو په پيچ و خم کي داسي روږدی کړئ ؤ چي د هر چا همدرد او خواخوږی دوست ؤ.

ژړا او نارې، سوزې د هر مين سره ملگري وي او هم دغه مضمون دئ چي د عشقي شاعرۍ اکثره برخه يې نيولې ده، يوه پارسي شاعر ويلي و :

بيا که گريۀ من آنقدر زمين نگذاشت
که از فراق تو خاکی به سر توان کردن

سعدي د دې ژړا علت او فلسفه داسي بيانوي :

اگر اين داغ جگر سوز که بر جان منست
بر دل کوه نهی سنـــگ به آواز آيد نای

د انسان د ژړا او کوکارو او غلبلو ممثل دی، کله چي انسان په ځنگله کي ابتدايي ژوند کاوه، يو وچ نل يې وموند، او په هغه کي يې پو کړه او د هغه حزين ږغ تر اوسه لا هم د انسان سره ملگری دئ، او تل د هر دردمن سړي د زړه سوي په ږغيزو ازانگو کي راباسي. نو ځکه په شرقي شاعري کي نی د درد او سوي او ميني سمبول دئ، او مولانا بلخي خپل مهم مثنوي د همدغه ني په زمزمه افتتاح کوي :

"بشنو از نی چون حکايت ميکند"



علامه اقبال هم د خپل هنر او خپل بزم شوق ته گرانبها تحفه هم دغه "يک نيستان ناله" راوړي او وايي :

آنچه من در بزم شوق آورده ام دانی کـــه چيست
يک چمن گل يک نيستان ناله، يک خم خانه می

شيدا ختک هم د ميني په ميدان کي خپل کريږي او غلبلې هغه وخت رسا بولي، چي د نل په شان ځان له خوښې څخه تش وگڼي :

ماتهي کړ خپل پهلو له شـــــادمانيه
شيدا درست په شان د نی آه و ناله يم

مگر د پيرمحمد هنر، بېل جامعيت او ځانته رنگيني او ښکلا لري، د عشق او بېلتانه د نازکو نکتو په څرگندونه کي خپل هنر ته اجتماعي ارزښت هم ورکوي، او هغه مقصد چي نورو شاعرانو په مجرد ډول اداء کړئ دئ پيرمحمد په خپل هنري لياقت هغه ته يو نوی رنگ ورکړی، دی وايي :

بېلتانه په غم شريک کړم د غمجنو
د هر چا په غاړه ژاړم لـــــــکه نی

په لفظي اعتبار دغه بيت د کندهار په يوه خاصه لساني اصطلاح اړه لري ، غاړه ور اچول د نی نوازانو يو خوږ تعبير دئ او بيا هم پر غاړه ورسره ژړل د خواخوږۍ او همدردۍ لپاره خاصه ادبي وينا ده. (۱)

(۱) کابل مجله، ۱۳۶۱ ل کال، ۴ ـ ۵ گڼه، ۴۶ ـ ۴۹ مخونه.